شهسوارسنگروال ۲۰۲۱/۰۴/۲۰

افغانان له پارس نه تر هندوستانه

درپیمه برخه

سلطان داود کرلاني بیا هم غلی نشو

د هند د پښتنو بدمرغي پدې کي وه چې پښتانه د افغان ضد ټلوالي ځواکونو په لیکو کي هم وه او د افغان مشرانو په پوځ کي هم شتون درلود. یانې پدې مانا چې یو شمېر افغانان د مغلو په دربار او پوځونو کي موجود وه، چې د افغانانو په وړاندې جنګېدل. د ساري پېدول د اسدالله خان افغان (۱۵۵۵زمږ) دوه زامن هر یو رحمان خان او حقداد خان چې رحمان خان یې «مالوي» ته لاړ په افغان ځواکونو کي له «باز بهادر» سره نوکر شو او بل ورور یې حقداد خان بیا اګرې ته لاړ هلته د اګرې باچا په لښکرو کي خدمت ته مټي را ونغاړلي.

دلته ګورو چې دوه ورونه یو د مغلو سره او بل د پښتنو سره دواړه یو د بل په وړاندې په دوه سیالو پوځونوکي په خدمت بوخت وه.

حقدار خان تر ۱۶۰۶ز (۱۰۱۷ هـ.ق) کال پورې اګره کي وه او له ده وروسته د ده زوی رحیمداد خان هم د پلار په منصب وتاکل شو او د اکبر په پوځونو کي نوکر وه.

همدا ډول مغل جنرال چې خپل پوځ د یو شمېر افغاني ځوانانو په مټ پیاوړی کړی وه، نو بیا یې د افغانانو په وړاندې محمد قلي د کرلاني داود د ځپلو لپاره ستګون satgoanد مجنون خان او بابه خان په مشرۍ یې یو بل پوځ «ګوراګات» ته واستوو چې هلته د داود کرلاني یو شمېر سرداران د مخه تللي وو.

د پوځ دریم غونډ بیا د مراد خان په قومنده د فتح اباد او یو شمېر نورو سیمو د نیولو لپاره هلته ولېږه.

له دې سربېره یو شمېر پوځیان یې د اعتماد خان په لاربښودنه د «سونارګون» د لاندې کولو لپاره هلته واستول.

پدغه ځلورو واړو غونډونو کي افغان جنګیالیو شتون درلود چې د افغانانو په وړاندې جنګېدل.

پدغو جګړو کي ګڼ شمېر افغانان ووژل شول. ان یو نامتو جنرال چې د سلطان داود له نږدې ملګرو څخه وه د سلیمان منګلي په نوم هم له مینځه لاړ.

ولې کله چې د سلطان داود پوځ د جنرال محمد قلي خان لخوا ماته وخوړه نوموړی «اوړیسا» ته په شا شو.

پدغه مهال د سلطان داود یو تربور چې «جنید» نومېده او د خپل تره سلیمان کرلاني په مهال د اکبر دربار ته تښتېدلی وه بېرته سیمې ته د دې لپاره راغی چې د افغانانو له لاسه وتلې دب دبه بېرته ترلاسه کړي. ولې داود پرې باور و نه کړ، خو دی په یوازې سر په بهار کي د مغلو د یوه ستر دښمن په څېر تر پایه پاتې شو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د سلطان داود کرلاني او د مغلي جنرال منعم خان ځواکونو تر مينځ په ۱۵۷۵ز کال د «تورکاوی» نومي ډګر کې مخامخ شول، او د دغې جګړې په ترڅ کې مغلو ځواکونو ماته وخوړه.

د ګوجر خان پيلانو د بابريانو په پوځ رڼا ورځ توره شپه کړه او نامتو جنرال علم خان پدغه ډګر کې ووژل شو.

ولې افغاني پوځونو، د تېر په څېر د مغلانو د شتو په لوټلو پيل وکړ او منعم خان بيا تيت و پرک ماتې خوړونکی پوځ راټول کړ او بيا يې په افغان پوځ برید وکړ او ډېر ژر يې له لاسه وتلی برم بېرته خپل کړ او د افغان پوځ له سرونو يې (۸۰) برجونه جوړ کړل.

»منعم خان د خپل زړه د خوشالی او د خپلې غوسې د کرارولو لپاره ګڼ شمېر افغاني جنګيالي چې له ده سره بنديان وه له زندانه را ايستل او د ټولو سرونو يې (۸۰) منارونه جوړ کړل]«.1([

د افغانانو د بې اتفاقۍ له امله په زرګونو افغانان ووژل شول او داود کرلاني هم چې پوه شو نور په ځان کې د جګړې وس نلري نو غوره يې وګڼله چې له مغلي ځواکونو سره سوله وکړي.

کله چې اتيا کلن منعم خان دا پيغام ترلاسه کړ، په ډېرې خوښۍ يې د سلطان داود سولې ته غاړه کېښوده.

هغه وو چې داود د کرلاني له خپلو سردارانو سره په ۱۵۷۵ز کال د اپرېل په ۱۲ نېټه د جنرال منعم خان استوګنځي ته راغی او د نوموړي لخوا له يوه دروند هرکلي سره مخامخ شو.

د دې لپاره چې کرلاني داود خپله ژمنه د اکبر پاچا دربار ته په ځای کړې وي، نو بيا يې خپل استازی شيخ محمد د هغه حضور ته واستوو.

اکبر پاچا هم يوه توره او يو د زرو کمربند د ډالۍ په دود سلطان داود ته ولېږه.

په ښکاره خو د داود او جنرال منعم خان ترمينځ پدې خبرې سوله وشوه، په رسمي توګه بهار او بنګال د جلال الدين اکبر د واکمنۍ برخه شوه. ولې افغانانو دغه پرېکړه و نه منله او ځای ځای د مغلو د پوځونو په وړاندې پاڅونونه پيل شول.

»افغاني ځواکونو د کرلاني جنيد، جلال الدين سور او يو شمېر نورو قومي مشرانو په مټ په روهتاس سهرام خپله ولکه ټينګه کړه او جلال الدين سور د اکبر مغلي جنرال مجنون خان قاقشال له «ګوراګات نه وشاړه)«.۲(

افغان جنګياليو په شمالي بنګال او جنوبي بهار کې خپله ولکه لا پياوړې کړه او منعم خان دېته اړ شو چې په ۱۵۷۵ز کال د اګست په مياشت کې د بنګال پلازمېنه له «ټنډا» نه «ګور» ته ولېږدوي، سچې د تاريخپوهانو په اند دا د منعم خان يوه لويه تېروتنه وه دا ځکه چې دغې سيمې ډېر بد اقليم درلود او کرلاني سليمان کلونه وړاندې د بنګال پلازمېنه له ګور نه ټنډا ته لېږدولې وه.

»د منعم خان يو نوکر بايزيد بيات وايي پدغه وخت کې داسې يوه اوبا پدغه سيمه کې راغله چې دومره زيات خلک مړه شول چې تکفين او تدفين يې ناشونی وو. کله چې منعم خان وليدل نو امر يې وکړ چې پلازمېنه له ګور نه بېرته ټنډا ته نقل کړي. ځکه چې په دغه اوبا کې د ده ۱۲ تنه جنرالان هم مړه شول)«.۳(

د اکبر په وړاندې، د سلطان داود کرلاني پاڅون
دا چې ولې داود د کړې تړون نه سر وغوړوه او بيا د مغلو په وړاندې ودرېد؟ ښايي څو لاملونه د پام وړ وي:

لومړی دا چې ده له خان جهان سره ان د پلار له وختونو نه اړيکه لرله او هغه به ورته د افغانانو د برم او دب دبې خبرې کولې او دی يې دې ته هڅوه چې بنګال بايد د افغانانو له لاسه ونه وځي.

دوم داچې کله افغانان د مغلو په وړاندې ودرېدل او ده د افغانانو مېړانه وليده چې د بهار او بنګال ډېرې سيمې له مغلي ځواکونو نه ونيولې بيا دی دې ته وهڅېده چې تېره دب دبه ترلاسه کړي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دریمه خبره دا چې د جلال الدین اکبر نامتو جنرال منعم خان په ۱۵۷۵ز کال د اکتوبر په ۲۳ نېټه ومړ. نو د منعم خان مړینې هم په ده اغېزه وکړه او بیا یې د مغلو په وړاندې متې را ونغاړلې.

د جلال الدین اکبر د واکمنۍ په اړه ډېر څېړونکي داسې انګېري چې نوموړی د نورو مغلي واکمنو په پرتله د ډېر زغم څښتن او د هند د بېلابېلو قومونو او مذهبونو په اړه یې کوم تعصب نه درلود او په دربار کې د بېلابېلو قومونو استازي راټول کړي وه، چې موږ د پښتنو استازو په لړ کې خان جهان یادولی شو چې د کېمبرج هستري په اثر کې راغلي دي:

»اکبر د پراخ نظر څښتن وه د مسلمانانو او راجپوتانو ترمینځ یې کوم توپیر نه کوه د هندوانو پنوم جزیه یې هم له مینځه یووړه)«.۴(

»هندوستاني سیاسي نظام کا تدریجي ارتقا«

په کتاب کې هم راغلي دي چې اکبر د سلطان داود لومړی وړاندیز ځکه ومنه ، نه غوښتل چې ځان له افغانانو سره ښکېل کړي.

ولې داود هم لکه مغلي اکبر غوندې، خپل ځان د بهار او بنګال حقدار ګاڼه. پدې مانا چې که اکبر ځان د همایون ځای ناستی ګاڼه، همدا رنګه داود کرلاني هم خپل ځان بیا د سلیمان کرلاني د چارو وارث ګاڼه، نو ځکه خو یې بیا د مغلو په پوځ برید وکړ او په پوره بریالي توب سره خپلې پخوانۍ پلازمېنې «تنډا» ته ننوت.

له کرلاني داود نه سربېره نورو پښتنو نوابانو هم د مغلو واک ته غاړه نه ایښوده. په دغه لړ کې یو هم د «بهاتي « bhatiسیمې یو مخور مشر عیسی خان وه، چې له ختیځ بنګال نه یې د اکبر مغولي ځواکونه تېښتې ته اړ کړل.

کله چې مغلي اکبر له دې پېښو خبر شو، نو بیا یې حسین قلي خان مشهور په خان جهان چې د بېرم خان خورېی کېده د بنګال والي وټاکه، او تري وې غوښتل چې له لاسه وتلې سیمې باید ډېر ژر له افغانانو ونیسي.

دلته یوه خبره د پام وړ ده، چې دغه خان جهان هغه افغان خان جهان ندی چې نوم یې پیرخان وو: «چې په ۹۹۴ هـ کال زیږېدلی دی. پلار یې دولت خان نومېده چې د مغل اکبر پاچا په دربار کې یو منلی انسان وه)«.۵(

حسین قلي خان له ستونزو ډک کار ته ملا وتړله او ماته خوړونکی پوځ یې را ټول کړ. لومړی یې «تیلیا ګړهي» لاندې کړه او بیا د تنډا په لور وخوځېدل.

کرلاني داود روانو پېښو دومره پوخ کړی وه چې یو شمېر مغلي پلویان یې د ځان په خوا کړل او د پوځ په مینځ کې داسې یوه پروپاګنده خپره کړه، چې دا څومره د بدمرغۍ خبره ده چې سوني مسلمان پوځیان د پارس د یوه شیعه جنرال حسین قلي په امر له افغان سوني مسلمانانو سره جنګېږي.

نوموړي په دېرې وارخطایۍ له ټولواکمن جلال الدین اکبر نه وغوښتل چې نوي وسلوال له خوړو سره د ده مرستې ته ولېږي.

مغلي اکبر په ۱۵۷۶ز کال مظفرخان د یوه ځواک په ملتیا سیمې ته واستوو چې دواړه لښکرې په راج محل کې سره یو ځای شوې او بیا یې په افغانانو برید وکړ.

پدغه جګړه کې د سلطان داود یو شمېر وزیرانو او جنرالانو له ده سره خیانت وکړ او د ده ډېر پټ اسرار یې مغلي خان جهان ته په لاس ورکړل.

د ډاکتر محمد عبدالرحیم په قول د Ramram basuرام رام بسو د هغه ګټور اثر له مخې چې «پره تاپا دیتیه چرتیره prapaditya charitra «نو مېړي راغلي دي، چې د داود د ګران وزیر «سري هري ویکرامه دیتیا Srihari Vikramadityaد خیانت له امله ده او ورور یې «بسنتارای basantarai «ټول دولتي اوراق او

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سري پاڼي مغلي جنرال ته په واک کي ورکړل او په پای کي د دغي خونړۍ جګړي په ترڅ کي د ده ملګری جنید کرلاني ووژل شو او دی د مغلي ځواکونو په لاس ورغی او بیا یي مغلي خان جهان ته لاس تړلی را ووست.

ویل کیږي چي داود ډېر تږی شوی وه او کله چي اوبه وغوښتي نو بیا ورته په بوټ کي اوبه راوړي.

دغه ښکلی ځوان یي دري واري په چاړه وواهه خو سر یي غوڅ نشو او په څلورم وار یي سر له تني نه جلا شو چي بیا یي د ده سره جلال الدین اکبر ته چي په اګره کي و د سید عبدالله په لاس ورولېږه.

د مغلي دربار تاریخ پوهان په اکبر نامه، طبقات اکبري، بدایوني او نورو کي د راج محل د جګړي په اړه نه یوازي د رام رام بسو د اثر لیکنو ته ورته څه ویلي دي بلکي د نعمت الله هروي دغه یادونه چي: «په ختیځ هندوستان کي د افغانانو د واک او ځواک لړۍ د قتلو لوا

نې د خیانت له کبله پای ته ورسېده.»(۶) هم کومه یادونه نده شوي. ولي بیا هم نعمت الله کښلي دي:

»د راج محل د جګړي په شپه قتلو لواني د سلطان داود کرلاني په وړاندي له مغلي خان جهان سره اړیکي ټینګي کړي وي.»(۷

دغه دواړه سرچیني انګېري چي مغلي چارواکو قتلو لواني ته یو څه منلي وه او هم یري هري ویکرامه دیتیا ته چي د سلطان داود له خزانو سره په ډاډه زړه جیسور ته وتښتېد.

کومه سیمه چي قتلو لواني ته پرېښودل شوه هغه «اوړي سه» نومېده او مغلي خان جهان تر پایه له هغي سیمي سره غرض ونه کړ.

د داود کرلاني له ماتي وروسته د پښتنو واکمني په بهار او ابنګال کي پایته ورسېده. چي د دي لاملونه ښايي ډېر وي خو یوه لویه تاریخي تېروتنه د کرلاني داود دا وه چي یو ډېر خواخوږی دوست لودي یي وواژه.

دویمه دا چي د ده وزیرانو او جنرالانو له ده سره خیانت وکړ چي د مخه یي یادونه وشوه.

دریمه خبره دا چي پخپله د مغلي اکبر پوهه وه چي یو د بل پسي یي افغان چارواکو ته ماته ورکړه.

څلورم لامل یي له ټولو ډېره مهمه وه هغه د پښتنو مشرانو او سردارانو بي اتفاقي، ځان ځاني او خپل مینځي جګړي وي.

ښايي داسي نور لاملونه به هم وو چي په پای کي د افغانانو ورستي پاچا یا سلطان ومړ او یا په ټوله کي د افغانانو ټولواکمني د داود کرلاني په مړینه پایته ورسېده. (نوربیا)

۱ ---ابوفضل ،اکبر نامه دریم ټوک ۳۰۸--- ۳۰۹ مخونه

۲ ---احمد بخشینظا م الدین طبقات ۲ټوک

۳ ---شیخ عبد القادربدایوني ۲ټوک ۱۹۵-۱۹۶ مخونه

۴ ---پالنپوري تاریخ هند۱۵۰ مخ

۵ ---مولانا محمد حسن در بار اکبري ۷۱۱ مخ

۶ ---ډاکتر محمد سلیم ۲۹۹ مخ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

۷ ---نظا م الدین همغه اثر ۳۱۰ مخ

۸ ---اکبرنامه۳۱۲ مخ

۹ ---سنګروال دتاریخ مرصع تاریخی څېړنه ۱۲۰مخ

۱۰ --بابرنا مه ۲۰ مخ

- [1]ابو فضل اکبر نامه ۳ ټوک ۲۹ – ۳۰۸ مخونه.

-احمد بخشي نظام الدین طبقات ۲ ټوک ۹ – ۳۰۸ مخونه.

-شیخ عبدالقادر بدایوني ۲ ټوک ۱۹۵ – ۱۹۶ مخونه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ